بسم الله الرحمن الرحيم

## د مسجدالاقصی او قدس د يهودي کولو طرحه؛ د مسلمانانو مسوليت څه دی!؟

## (څلورمه برخه)

## (ژباړه)

په مخکينۍ برخه کې مو د اسلامي امت د تاريخ پر يوه سخت پړاو خبرې وکړې؛ هغه پړاو چې صليبيانو پر اسلامي خاورو، په ځانګړي ډول شام او مسجدالاقصی بريدونه وکړل. د شام او مسجدالاقصی په مبارکه خاوره کې، کابو ۹۰ کاله پرلپسې نه د اذان غږ واورېدل شو او نه لمونځ پکې ادا شو. ټول مسلمانان دې خاورې ته له راتګ څخه منع او تر سره کېدونکي عبادات او احکام پکې ځنډېدلي وو. په دې برخه کې په عام ډول د اسلامي امت د دې دورې د تاريخ مهمې پېښې او درسونه او په خاص ډول د مسجدالاقصی پېښې څېړو. ځکه تاريخي پېښې راتلونکو نسلونو ته ډېر عبرتونه او درسونه لري. د صليبي جګړو پر مهال موږ د بيزو او خنزير د ورونو د بريد شاهدان وو. اوسنۍ توره دوره هم د اسلام پر وړاندې د همغو صليبي اربابانو او د هغوی د مزدورانو د جګړو دوام دی.

**لومړی درس:** د مسجدالاقصی پر وړاندې د تاريخ په اوږدو کې، په ځانګړي ډول د صليبي جګړو پر مهال د شرقي او غربي کفارو دښمني او فساد ښکاره وو او لا هم روان دي. پر مسجدالاقصی باندې، له دې امله چې دا ځای د امت په زړه کې ځانګړی ځای لري، هدفمندانه او پرلپسې جګړې شوې دي؛ په دوو پېړيو کې يې ۹ بريدونه پرې وکړل. دښمن تل هڅه کړې چې د اسلام، مسلمانانو او اسلامي افکارو او شعائرو پر وړاندې دسيسې جوړې کړي؛ پر مسجدالاقصی بريدونه يې يوه برخه ده. مسجدالاقصی چې صليبيانو ونيو، غوښتل يې ويې نړوي او لمونځ يې پکې منع کړ؛ خو چې مسلمانانو فتح کړ، هېڅ مسيحي يې په کليساوو او عبادتځايونو کې له عبادت څخه منع نه کړ. په حقيقت کې د مسلمانانو دا کار د عمر فاروق رضی الله عنه (د مسلمانانو عادل خليفه) د عمري عصر پر ژمنه وفا وه. دا د قيامت تر ورځې د اسلامي امت لپاره عبرت دی، چې د بېلابېلو نړيوالو سازمانونو او هوکړو له لارې د مسجدالاقصی پر ضد د مسيحيانو تلپاتې دښمني ده.

**دويم درس:** د اصحاب کرامو په وخت کې د اقصی د ازادولو انګېزه او لېوالتيا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وصيت له کبله وه او له اقصی سره مينه او ازادول يې د امت په عقيده پورې تړلي دي. له کفارو څخه د اقصی ازادول د مسلمانانو د يووالي لامل شو؛ کله چې مسجدالاقصی اشغال و، مسلمانانو هېڅ وخت جهاد ونه دراوه، تر دې چې د حطين له برخليک ټاکونکې جګړې وروسته يې د ازادۍ تاج ور پرسر کړ. اوسمهال يې هم بايد د ازادولو محرک او انګېزه قومي او ملي نه، بلکې ايماني او عقيدوي وي؛ ځکه دا ډول عقيدې تولې ناکامې شوي دي. اقصی يوازې هغه کسان ازادولی شي، چې له الله سبحانه وتعالی سره يې د صدق او اخلاص تړون کړی وي. لکه: نورالدين زنګي، ظاهر بيبرس او صلاح الدين ايوبي.

**درېيم درس:** د اسلامي امت ماهيت او صفتونه؛ اسلامي امت يوه معتبره سرچينه او اساسي ماهيت لري، چې اصل يې ثابت دی او هر وخت د خپل رب امر ته غاړه ږدي.

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَ فَرْعُهَا فِى السَّمَاءِ﴾ [ابراهيم: 24]

*__ژباړه:__ ایا ته نه ګورې چې الله سبحانه وتعالی څه ډول په یوه مثال کې پاکه وینا (د توحید کلمه)له داسې پاکې ونې سره تشبیه کړې، چې اصل یې (په ځمکه کې) ثابت دی او فرع (ښاخ) یې په اسمان کې دی.*

عالمانو د امت د یووالي او د یوې واحدې رهبرۍ تر چتر لاندې راوستلو په برخه کې ګټور رول لوبولی دی او د نور الدین زنګي په وخت کې امت متحد شو. دغه فضل او غوره والی د متقي عالمانو د زیار او هڅو له امله دی، چې د مقدساتو او خاورو د ازادولو په برخه کې یې امت او د امت رهبران هڅولي دي:

**«إنَّ العُلَمَاءَ وَرَثَةُ الأنبِيَاء وَ إنَّ الأنبِيَاءَ لَم يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَ لَا دِرهَمًا، إنَّمَا وَرَّثُوا العِلمَ، فَمَن اَخَذَهُ اَخَذَ بِحَظٍّ وَّافِرٍ»** (صحیح بن حبان)

*__ژباړه:__ عالمان د انبیاوو وارثان دي، له انبیاوو څخه دینار او درهم په میراث نه دي پاتې؛ بلکې له هغوی څخه علم په میراث پاتې دی، څوک چې هغه زده کړي، په حقیقت کې یې لوی کار کړی دی.*

د نور الدین زنګي او صلاح الدین ایوبي په شان لویو رهبرانو د جهاد په دوران کې له عالمانو سره نږدې اړیکې او ناسته پاسته لرله او سرلښکر یې وو، که به لښکر کامیابېده او که به ناکامېده. په دې کې د اوسنیو عالمانو لپاره ښکاره عبرت دی؛ ځکه اوس هم د صلیبیانو د وخت په څېر د مسجد الاقصی په حق کې سستي او ناغېرې کېږي؛ نو دا د عالمانو لپاره یو درس دی چې یو ځل بیا امت متحد کړي او د دوی دا کار د امت د عزت بېرته را ګرځولو او مقدساتو د ازادولو پیلامه شي.

**څلورم درس:** د تاریخ په اوږدو کې کفار پر خپلو ژمنو نه دي درېدلي، قرانکریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت د دغې موضوع غوره شاهدان دي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿لَا يَرقُبُونَ فِى مُؤْمِنٍ إِلًّا وَ لَا ذِمَّةً وَ أُولٰئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ﴾ [توبه: 10]

*__ژباړه:__ (دوی) له هېڅ مومن سره د خپلوۍ او تړون خیال نه ساتي او همدوی تیري کوونکي دي.*

امام بغوي (رح) په خپل تفسیر کې ویلي: «مشرکان له ټولو مومنانو سره دښمني لري، یعنی مشرکان پر مسلمانانو د برید پر مهال هر ډول تړون تر پښو لاندې کوي او هېڅ ډول ملګرتیا ته هم ژمن نه پاتې کېږي.» کفارو تل له مسلمانانو سره خپل تړونونه مات کړي، چې د بېلګې په ډول په الرها، معرة النعمان او قدس کې د صلیبیانو او په سمرقند او بخارا کې د مغولو تړون ماتولو ته اشاره کولی شو، چې د مسلمانانو پر وړاندې یې د خیانت توره وچلوله. کفار به اوس هم له مسلمانانو سره پر کومه ژمنه ونه درېږي او د خپلو ګټو لپاره به هر ډول نړیوالې هوکړې او تړونونه تر پښو لاندې کړي. نو دلته د مسلمانانو لپاره یو عبرت دی چې خپله وینه، دین او ناموس له کفارو څخه په امن کې ونه بولي. الله سبحانه وتعالی له ټولو هوکړو او نړیوالو تړونونو څخه زیات صادق دی او مسلمانان باید د کفارو پر وړاندې د جهاد اراده وکړي، تر څو له هغوی څخه اسلامي خاورې ازادې کړي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِى الْحَرْبِ فَشَرِّد بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ﴾ [انفال: 57]

*__ژباړه:__ که مو هغوی د جګړې په ډګر کې ولیدل او پرې برلاسي شوئ، هغوی ووهئ او سره تیت یې کړئ، چې هغه کسان چې د دوی تر شاه دي (د هغوی ملاتړ کوي) عبرت ترې واخلي (تیت پرک شي او بیا سر راپورته نه کړي).*

**پنځم درس:** داسې انګېرل کېږي چې کفار متحد دي، په داسې حال کې چې سره وېشل شوي او يو له بل سره دښمنۍ لري؛ خو بيا هم د اسلامي امت پر وړاندې د جګړې لپاره يو موټی وي. دا مسله د اسلامي امت پر وړاندې د صليبيانو په جګړو کې ښکاره ده. د بېلګې په ډول؛ د ختيځ روم (قسطنطينې) کليسا او لوېديځ روم (اروپا) کليسا سره له دې چې په خپل منځ کې يې ډېر وخت جګړې کړې وې؛ خو د مسلمانانو پر وړاندې سره يو شوې؛ د اروپا پاچاهان هم همداسې دړواخلۍ. د اسلامي امت لپاره په دې کې درس دا دی چې کفار که يو له بل سره دښمنان هم وي؛ خو د اسلامي امت پر وړاندې يو کېږي. همداسې امريکا او اروپايي هېوادونه سره له دې چې له يو بل سره دښمنۍ لري؛ خو د اسلام پر وړاندې جګړه کې يو موټی دي. نو په ټوله کې چې خبره د اسلام پر وړاندې د جګړې او شر رسولو وي، د کفارو تر منځ هېڅ توپير نشته.

دا د اسلامي امت او مسجدالاقصی پر وړاندې د صليبي جګړو د وخت ډېر ښکاره درسونه وو. حقيقت دا دی چې د اسلامي امت او مسجدالاقصی پر وړاندې د صلبيانو دسيسې او پلانونه پای ته نه دي رسېدلي. په بله برخه کې به پر هغو نوو جګړو بحث وکړو چې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو شرير سازمان تر چتر لاندې، په بېلابېلو نومونو د صليبي جګړو ځايناستې شوې دي. همدا راز به د خلافت تر راپرځېدو وروسته د برېتانيا د حاکميت پر مهال د فلسطين پر وړاندې د غرب او صهيونيستانو د دسيسو په اړه خبرې وکړو.

**ليکوال: حمد طبيب**

**ژباړن: حبيب الله حبيب**

**۱۴۴۳هـ.ق، د شوال ۲۴مه**

**۲۰۲۲م، د مې ۲۶مه**